# په افغانستان کې د کامیابه اقتصادي موډل نشتون
# او د اقتصادي استقلالیت تحلیل

محمدآصف ننگ، له پکتیکا څخه
د اقتصاد خپرندوی مشر

د اقتصادي موډلونو یا نظامونو الگو په څو دلایلو د تحلیل وړ ده، اولاً دا چې هیڅ داسې کاري سکتور نشته چې د چلند لپاره دستورنامه او د چلیدو کړنلاره ونلري، البته چې د الله تعالی عبادات هم په نظم او نظام استوار دي، لمونځ، حج روژه او نورو فرایض ځانگړې طرز او د ځانگړو قواعدو او اصولو له مخې ترسره کیږي، نو طبعاً مادي ماموریتونه هم یو لړ اصولو او مبانیو ته اړتیا لري، دویم دا چې په دنیا کې هیڅ داسې هېواد نشته چې د اقتصادي فعالیتونو لپاره نظم او نظام ونلري، دا عیناً لکه د ترافیکي سیستم داسې دی که چېري وضع شوې اصول او قواعد رعایت نشي نو نظم مختل کیږي، حوادث او تصادمات رامنځ ته کیږي او په سبب یې نور مصالح او حرکتونه ورسره گډوډ کیږي، دریم دا چې اقتصادي نظامونه او موډلونه کلونه کلونه تجربه شوې، صیقل شوې، پاخه شوې او بالاخره پدې برخه کې وضع شوې قواعد، اصول، میکانیزمونه، مراودات او قوانین د عمومي قبول تر حده مروج شوې چې هیڅ هېواد ترینه انکار کولی نشي، پنځم دا چې اقتصادي موډلونه د یوه هېواد په معّرفه، رسمي او ثوابتو تبدیل شوي داسې ثوابتو چې د دوو هېوادونو د تعامل لپاره معیار او اساس بلل کیږي، د هر هېواد اقتصادي موډل له بل سره ممکن شباهت او توپیر ولري خو د همدې شباهت او توپیر پر اساس د اقتصادي اړیکو او تعاملاتو بنسټ کېښودل کیږي او هر طرف کولی شي د همدې موډلونو په پام سره خپلې اقتصادي گټې او حدود ترسیم او سنجش کړي او تعامل ته ورودانگي.



**په اختصار سره د ځینو موجوده او مروجو اقتصادي موډلونو یادونه**

**Islamic Economic System د اسلامي اقتصاد موډل:**

دا یو داسې اقتصادي چوکاټ دی چې د اسلام د اصولو او تعلیماتو پر بنسټ ډیزاین شوی دی د دې اقتصادي موډل موخه د اسلامي ارزښتونو او اصولو په پام کې نیولو سره ټولنیز عدالت، عامه هوساینې او اقتصادي وده تامینول دي، لکه د شتمنۍ عادلانه ویش، د انساني وقار ساتنه، او په ټولنه کې د کفالت او همکارۍ روحیه غښتلې کول. اسلامي اقتصادي موډل او اصول اساساً پدې ټېنګار کوي چې له هغو اقتصادي وسایلو او میتودونو څخه کار واخلي چې د اسلامي شریعت له احکامو سره مطابقت ولري.

**د اسلامي اقتصادي موډل مهم اصول:**

پر ګډ او انفرادي مالکیت عقیده درلود، په اسلامي اقتصاد کې مالکیت په دوه ډوله تثبیت کیږي، انفرادي مالکیت او عمومي مالکیت، افراد کولی شي خپل ملکیت ولري، خو دا ملکیت باید په داسې ډول نه وي چې نابرابري یا د نورو د مال ناجایزه استحصال ته لار هواره کړي، په ورته وخت کې طبیعي او عامه سرچینې (لکه اوبه، هوا، نه جلا کیدونکې ځمکې، او منرالونه) چې په ټولنې پورې اړه لري باید د عادلانه استخراج لپاره ټولو اشخاصو ته ځانګړې شي او ټول ترېنه مستفید شي، نو د عامه شتمنیو د تنظیم لپاره دولتي وارثي او مدیریت مهم دی تر څو د عامه ملکیتونو په تنظیم او تقسیم کې خپل نقش ایفا کړي.

**اقتصادي عدالت او د شتمنیو عادلانه ویش:** دا هغه اصل دی چې په اسلامي اقتصادي موډل کې وربانديې ډیر ټینګار شوی دی دا په دې معنی ده چې طبقاتي واټن راکمول، د بې وزلو او اړمنو خلکو ملاتړ او د ټولنې د کمزورو طبقو سره مرسته کول یو واجبي او اعزازي کار بلکې یوه اساسي وجیبه بلل کیږي، له همدې امله د زکات فرضیت (چې یوه مذهبي مالیه ده او باید چې توانمنده مسلمانان یې ورکړي) دا په حقیقت کې د بې وزلو سره د مرستې او د ټولنیزو نابرابریو په له منځه وړلو کې مهم رول لوبوي .

**له حرامو اقتصادي فعالیتونو څخه ځان ساتل:** په اسلامي اقتصاد کې هغه اقتصادي فعالیتونه چې د شریعت له اصولو سره سم نه وي، باید له هغوی څخه ډډه وشي پدې کې هغه کاروبارونه شامل دي چې د الکولو، قمار، او د مخدره توکو تولید یا پلور پورې اړوند دي همدارنګه د طبیعي زیرمو او سرچینو خپلسره استخراج منع دی.

**په سوداګرۍ کې اخلاقي اصول رعایتول:** سوداګري او اقتصادي فعالیتونه باید د اسلامي اخلاقو پر بنسټ وي صداقت، شفافیت، او د نورو حقونو ته درناوی د اسلامي سوداګرۍ ستنې دي دا پدې مانا ده چې په معاملو کې د دوکې، درغلۍ او ناسمو کړنو څخه ډډه وشي.

**د ټولنیزې هوساینې لپاره پور ورکول:** په اسلامي اقتصاد کې د ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره پور ورکول جواز لري، مګر دا باید په پام کې ونیول شي چې پورونه باید له سود څخه پاک وي (په غوره توګه د ځینو شرایطو لاندې ترسره شي) او د بې

وزلو یا اړمنو خلکو د مالي وضعیت په ښه کولو کې د مرستې په ارادې ترسره شي. همدارنګه، که چیرې یو فرد د خپل پور بیرته ورکولو توان ونلري نو باید د هغه د بخښنې لپاره اسانتیاوې برابرې شي.

**اسلامي بازار:** اسلامي بازار د اقتصادي تعاملاتو لپاره د یو چاپیریال په توګه پیژندل کیږي چې پکې اسلامي اخلاق غالب وي په دې بازار کې، د بازار د تنظیم لپاره اسلامي قوانین او مقررات کارول کیږي سربېره پردې، د عرضې او تقاضا د اصولو په کارولو باندې ټینګار په داسې ډول دی چې ټولو ته ګټه ورسوي، نه د احتکار او انحصار پر بنسټ او نه هم د یو اړخیزه ګټې پر بنسټ..

**د اسلامي اقتصادي موډل ځینې ځانګړتیاوې :**

**اسلامي بانکداري:** اسلامي بانکداري د اسلامي شرعي قانون د اصولو پر بنسټ فعالیت کوي، چې په کې د سودي ګټې کارول منع دي پرځای یې، اسلامي بانکونه د مالي سرچینو د خوندي کولو لپاره د ګټې او زیان شریکولو، مضاربت (په سوداګرۍ کې ملګرتیا او ونډه)، او د پانګونې د پراختیا او زیاتیدو لپاره ګڼ جایز او ګټور فعالیتونه په لاره اچول دي.
په اسلامي اقتصاد کې یو له مهمو اصولو څخه د سود منع کول دي په اسلامي شریعت کې په سود یا ګټې د پیسې اخیستل یا ورکول منع دي دا مسله د دې لامل کیږي چې په اسلامي بانکدارۍ کې د سود پر بنسټ سیستمونه د شراکت (د ګټې او زیان شریکول) او مضاربت (په سوداګرۍ کې د شراکت تړون) په څیر وسایلو او تعاملاتو عیار شي، یعني د غیر ربوي تعاملاتو پر بنسټ...

**ټولنیز ګډون اسلامي تکافل:** په اسلامي اقتصاد کې د ټولنې افراد باید په اقتصادي چارو او فعالیتونو کې برخه واخلي او یو بل سره مرسته وکړي د ټولنیز ګډون یوه نمونه اسلامي تکافل او وقف (خیراتي فنډونه) دی، بل یې زکات (هغه مالیات چې غریبانو ته ورکول کیږي) دی دا د ټولنیز او اقتصادي عدالت د کچې د زیاتولو لپاره کارول شوي وسایل او نمونې دي، چې د اسلامي بانکونو له لارې د دولت خزانې ته واریز کیږي.

**د شتمنۍ له تمرکز څخه ډډه کول:** اسلامي اقتصاد د ځینو اشخاصو یا ډلو په لاسونو کې د شتمنۍ له تمرکز سره مخالفت کوي د اسلامي اصولو له مخې، شتمني باید په عادلانه ډول ووېشل شي او د غیر عادلانه راټولېدو یا کنز (ګنج) کیدو مخه یې باید ونیول شي، پدې هکله اسلامي دولت باید داسې برنامې جوړې کړې چې پانګه یا شمتنۍ ګنج یا ذخیره نشي بلکې په کار ولویږي او د نورو د استفادې او دوراني کیدو قابل شي.

**دوامداره پرمختګ:** اسلامي اقتصادي موډل په دوامداره پرمختګ او د طبیعي سرچینو په غوره استعمال تمرکز کوي د سرچینو مصرف باید داسې وي چې نه یوازې د اوسني نسل لپاره بلکې د راتلونکو نسلونو لپاره هم ترې ګټه پورته کول ممکن وي، دلته له سرچینو څخه هدف، سرمایه، کانونه، ځنګلونه، خاوره، نفتي منابع او....دي

**ټولنیزو ګټو ته پاملرنه:** په اسلامي اقتصاد کې، هدف یوازې مادي او مالي ګټه کمایې کول نه ده، بلکې د ټولنیزې هوساینې وده، د فقر کمول او د ټولنې د مختلفو برخو ترمنځ عدالت رامنځته کول هم دي.

لنډه دا چې اسلامي اقتصادي موډل یو جامع اقتصادي چوکاټ دی چې موخه یې د اسلامي اصولو پر بنسټ ټولنیز عدالت، عامه هوساینې او دوامداره اقتصادي وده ترلاسه کول دي دا اقتصادي موډل هڅه کوي چې د سود له منځه وړلو، د فساد سره د مبارزې، بشري پرمختګ او د سرچینو د عادلانه ویش له لارې د ټولنې په سالمې ودې او هوساینې کې هر مومن رعیت مرسته وکړي.

**Capitalism پانګه وال یا سرمایه داری اقتصادي نظام:**

دا د دنیا تر ټولو زیات پیژندل شوی مروج اقتصادي موډل دی چې د خصوصي مالکیت او پانګې په استقلال او آزادۍ استوار دی، د دغه موډل له مخې د هېوادونو زیاتې مادي منابع او تولیدات د خصوصي سکتور په ګروت کې لویدلې دي او همدا خصوصي تشبثات دي چې د اقتصادي نظام شیرازه یې (د عرضه او تقاضا پر اساس) تشکیل کړې او د حکومتي مداخلې له اغېز پرته د یوه هېواد اقتصادي څرخ چلوي. ددې نظام کمال دا دی چې اقتصادي وده یې په شدت سره تآمین کړې خو عیب یې دا ده چې د پانګې او سرچینو توازن یې له منځه وړې او طبقاتي ټولنې یې ایجاد کړې، حتی د غني او فقیر واټن یې د بنده او آقا تر حده پراخ کړی دی.

**Socialism سوسیالیستي یا مشارکتي اقتصادي موډل:**

دا د دنیا د دویمې درجې په مروجو نظامونو کې راځي، پدې موډل کې دولتونه د پانګې، سرچینو او تشبثاتو مالکیت په لاس کې لري، دا د پانګوال نظام کاملاً برعکس عمل کوي، د دې نظام هدف ټولیزه او اقتصادي برابري ده، د سوسیالیستي نظام عیب دا دی چې د تولید د پراختیا، سالم رقابت او نوښت انګیزه یې نابوده کړې خو تولیداتو او منابعو ته د ټولو وګړو نسبتاً متوازنه لاسرسۍ یې تر ډېره حده ممکن کړی، بل عیب یې دا دی چې پدې موډل کې دولتونه په مطلقه حاکمانو او فرمانروایانو تبدیل شوې. د شوروي اتحاد زوال او سقوط وښودله چې دغه موډل د نړۍ لپاره کامیابه موډل نه و.

**Social Democracy د ټولنیزې ډیموکراسۍ موډل:**

ټولنیزه ډیموکراسۍ د پانګوالۍ او سوسیالیزم د عناصرو یو ګډ ترکیب دی چې موخه یې د آزاد بازار په کارولو سره ټولنیز او اقتصادي عدالت رامینځته کول او همدارنګه د عمومي هوساینې چمتو کول دي په دې موډل کې، حکومت د بازار د تنظیم کونکي په نقش کې تبارز کوي پدې توګه د روغتیا، تعلیم، ټولنیز امنیت، او تقاعد په څیر برخو کې مداخله کوي خو د اقتصادي فعالیتونو یوه لویه برخه آزاد بازار او خصوصي سکتور ته پریښودل کیږي ګټې یې دا دي چې د خصوصي تشبثاتو او ټولنیزې هوساینې ترمنځ توازن رامینځته کوي، اقتصادي نابرابرۍ ممکنه حد ته راکمول، د عامه خدماتو وړاندې کول او داسې نور خدمات په خپل لاس کې نیول د دې باعث کیږي چې د حکومت لګښتونه زیات شي، په مالي او مالیاتي سیستمونو کې پیچلتیا رامنځته شي، په لوړو مالیاتو تکیه زیاته شي او پدې توګه یو مخفي تطبقاتي سیستم رامنځته شي.

**Communism د کمونیزم موډل کمونیزم:**

کمونیزم د یوه مثالي اقتصادي موډل په توګه داسې ټولنه غواړي چې پکې شخصي ملکیت په بشپړه توګه له منځه یوړل شي او ټولې سرچینې او د تولید وسایل د ټولنې په لاس کې ورکړل شي پدې موډل کې شخصي ملکیتونه نشته او ټولې اقتصادي سرچینې د دولت تر قیومیت او مالکیت لاندې د ټولو خلکو ترمنځ شریکې دي ددې سیستم موخه د طبقاتي توپیرونو له

منځه وړل او د شتمنیو مساوي ویش و، اقتصادي مساوات، د بې وزلۍ له منځه وړل او داسې نور فریبنده شعارونه خو عملاً همدا سیستم باعث شو چې د کار او نوښت لپاره زمینه او هم په اقتصادي ډګر کې انګیزه ختمه شي. د همدې سیستم او شعارونو له مخې اقتدار او واک د حکومت په لاسونو کې شدیداً تمرکز وکړ چې په پای کې همدغه سیستم د ولسونو له خشم سره مخامخ کړ او یوه لویه امپراطوري (شوروي اتحاد) یې د نابودۍ کندې ته وغورځوله.

**Mixed Economy د ګډ اقتصاد موډل:**

په دې موډل کې د آزاد بازار د اصولو او دولتي مداخلې یو ګډ ترکیب د بازارونو د تنظیم او ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کارول کیږي دا اقتصادي موډل هڅه کوي چې د آزاد بازار او حکومتي کنټرول غوره ځانګړتیاوې سره یوځای په متوازنه توګه عیار کړي په مخلوط یا ګډ اقتصاد کې حکومت یو لړ اساسي مسؤلیتونه لري لکه ټولنیز امنیت چمتو کول، عمومي زیربناوي رامینځته کول او د بازارونو تنظیمول خو په ورته وخت کې خصوصي سکتور او آزاد بازار هم په اقتصادي سیستم کې د فعال شریک په توګه فعالیتونه او تشبثات ترسره کوي، د دې مختلط سیستم هدف د اقتصادي ودې او ټولنیز عدالت ترمنځ توازن، د خلکو اړتیاوو ته د ځواب ویلو وړتیا او اقتصادي وده بلل کیږي.

**Free Market Economy د آزاد بازار اقتصادي موډل:**

په دې موډل کې حکومت په اقتصاد کې خورا محدود او له مداخلې پرته رول لوبوي، یعني ډیری اقتصادي پریکړې په بازار کې کاملاً آزادې سیالۍ پر بنسټ بلکې د عرضې او تقاضا د قوانینو له لارې ترسره کیږي. پدې موډل کې حکومت یوازې تنظیمونکی رول ایفا کوي، نور نو آزاد بازار په بشپړ ډول اقتصادي پریکړې رهبري کوي سیالي او انفرادي هڅونې د آزاد بازار په سیستم کې خورا اغیزمنې دي



**Endogenous Growth Theory د داخلي ودې تیوري:**

دا موډل په دې اساس ولاړ دی چې اقتصادي وده د هیواد دننه د بشري سرچینو، نوښت او ټیکنالوژیکي پراختیا کې د پانګونې له لارې راځي نو طبعاً د هېواد د ملي او داخلي منافعو پر بنسټ سیاسي او اقتصادي سیستمونه عیار کیږي پدې

سیستم کې پر تعلیم، څېړنو او عموماً پر پراختیا او ټیکنالوژیکي پرمختګ کې د پانګونې پر اهمیت ټینګار کيږي په دې موډل کې حکومت کولی شي د ودې د اسانتیا د برابرونکي په توګه عمل وکړي، نه د مداخله کوونکي په حیث.

**د پراختیایي اقتصاد موډلونه Development Economics Models:**

د مخ پر ودې هیوادونو د ستونزو د تحلیل پر بنسټ، دا موډل په اقتصادي ودې، د فقر په کمولو او د ټولنیز پرمختګ په هکله ډېر ټېنګار کوي، اصول او اساسات پدې سیستم کې داسې ترتیبيږي چې د چابکې ودې او زیاتې رفاه او سوکالۍ په موخه، د هېواد سیاسي او اقتصادي نظام پر اقتصادمحورۍ استوار وي، د ډېرې ګټې پروژې په لومړیتوب کې نیول کیږي، مسلکي ارزښتونه په لومړیتوب کې وي، ابتکار او ډیر خدمت په لومړیتوب کې وي، علم او تکنولوژۍ تر ټولو لوړ ارزښت مومي....



**په افغانستان کې د اقتصادي موډلونو تحلیل:**

افغانستان د لسیزو لسیزو جګړو او یرغلونو په سبب او هم د ګڼو پاچاګردیو له وجهې پدې ندی قادر شوی چې د علمي او میداني څېړنو او اکادمیکو اصولو له مخې ځانته ځانګړی اقتصادي موډل جوړ کړي، د پاچاګردیو پدې دلدل کې عاریتي او د پردیو ایدیولوژیو څخه اغیزمن یا د ښکیلاګرو په فرمایش نظامونه پدې خاوره تجربه شول، په ۲۴۰ کلونو شاهي پاچاهیو کې هېواد هیڅ ډول اقتصادي موډل نه درلود، منتها د اقتصادي نظم او فعالیتونو لپاره یو لړ قوانین، محاکم، اصولنامې او شاهی دساتیر موجود و چې د فقیر هېواد، (بند اقتصاد، کورني اقتصاد) چې ډیر وړوکی او محدود و د همداسې اقتصادي نظام د مدیریت لپاره کافي بلل کیده، د شهید داود خان د جمهوریت په دوران کې له کمونیستي ایډیالونو په تقلید سره یو موډل «د تصدیو اقتصاد» حاکم و، بیا د کمونستانو له کوتاه سره نظام کاملاً اشتراکي سیوسیالیستي بڼه غوره کړه، دولتي اقتصاد، د خصوصي پانګونې نیم بنده موجودیت هم ختم کړ، د مجاهدین حکومت غالباً هیڅ اقتصادي موډل نه درلود او نه یې هم په لیکلې بڼه کومه برنامه درلوده.

په تیرو شلو کلونو کې د پخواني اساسي قانون پر بنسټ «د آزاد بازار» تر عنوان یو نا کنترول اقتصادي نظام حاکم و چې غالباً پر خارجي مرستو، د نشه یې توکو پر کاروبار، عنعنوي زراعتي تولید او صعنتي پانګوني او د خدماتي سکتور په نامتوازنو فعالیتونو استوار و، د دې اقتصاد لویه ګټه قماري کاروبارونو ته ورتلله اما تر ځمکې لاندې یو ډول رانتي معاملات چلیدل چې تر ډېره حده یې تورو پیسو ته د ودې زمینه مساعدوله...د ثابتو اقتصادي برنامو او پراختیایي پروګرامونو د نه شتون په سبب چې دغه نړیواله مساعدتي پانګه یې باید جلب او جذب کړې وای او د ودې بنیادي زمینې برابرې کړې وای اما برعکس د قماري پیسو په حیث دغه سرمایه فراري شوه او د نورو هېوادونو په لویو کاروبارونو او مصئونه منافعو کې ونښته.

**د اوسني افغانستان اقتصادي وضعیت او د اقتصادي موډل فقدان:**

اوس هم د اقتصادي مدیریت لپاره کومه مدونه ایدیولوژیکه او رسمي شوې نسخه نشته، آزاد بازار هم شته، د دولت مداخله هم شته، د بانکونو د اسلامي کیدو لپاره روان حرکت کومه خاصه ګټوره نتیجه نده ورکړې، بانکي پشتوانه نده ایجاد شوې، د صرافه بازارونو قماري تعاملات او احتکار په ضعیفه توګه کنترولیږي خو د اسعارو بازار د قیمتي اسعارو د مافیاوو په ګروت کې دی، خو لدې سره سره د مالي مسوولینو د نظارت په سبب د اسعار نسبي ثبات د افغانیو د خرید قوت نسبتاً په اعتدالي حد کې ساتل شوی، د کرنسۍ د ثبات او اعتدال لپاره د اسلامي امارت لخوا د مرکزي بانک د ډالرو نوبتي عرضه او پلور یو ډیر ناځوابده او ناکافي اسلوب دی چې باید د اسعارو د اعتدال او ثبات لپاره له ګڼو نورو ابزارو کار واخیستل شي، د عام وګړو د جیب د خرید قوت سخت ټیټ پاتي شوی، علاوتاً د عامو وګړو لپاره د اقتصادي لیدلوري (دورنما) څرک عملاً نشته ځکه خو په متوازنه توګه په ټولو ولایتونو کې داسې خاصې بوختونکي او ګټه راوړونکي پروژې او فعالیتونه هومره نشته چې د وګړو قناعت پرې حاصل شي، د بیکارۍ پراختیا د اقتصادمحوره پلانونو د نشتون په سبب ورځ تر بلې پراخیږي، ممکن دلیل یې اقتصادي تعزیرات او نړیواله مقاطعه او د رسمي دولت (په قانوني چوکاټ کې) نشتون وی، منتها په دغسې تشدیدي شرایطو او هلاک کوونکو بندیزونو د انفاذ باوجود د بازار د نظم او انتظام لپاره د اسلامي امارت هڅې د ستاینې وړ دي.

**د افغانستان لپاره د مختلط بازار موډل:**

اصلاً او اساساً خو د افغانستان لپاره مطلوبه نسخه، د اسلامي اقتصادي سیستم نسخه دی چې پورته مې په نسبتاً تفصیلي توګه، له معتبرو منابعو په استفادې، ورته اشاره وکړه، خو د دغسې سیستم د کامل تطبیق او ایجادولو ظرفیت نه په فکري کچه شتون لري او نه هم په عملي کچه...د بشپړ اسلامي موډل تر ایجاد او تطبیق پورې لازمه ده یوه عبوري او انتقالي

مرحله (ممکن لس کاله) په پام کې ونیول شي، پدې مرحله کې ماته نسبتاً ایډیال اقتصادي موډلونه د ایران، سعودي عربستان، مالیزیا او چین موډلونه تر نورو هغو غوره ښکاري... ددغو هېوادو موډلونه د آزاد بازار او دولتي کنترول د یوه نسبتاً مختلط موډل پر بنسټ استوار دی، پدې موډلونو کې دولت د خصوصي سکتور رقیب او سیال ندی، بلکې حمایه کوونکی او کنترونکی یې دی، چېرته چې وضعیت منفي طرف او ناسالم رقابت ته ځي هلته دولت د سمون او اصلاح رهبری په لاس کې نیسي، چیرته چې د بازار په نرخونو کې رکود او کساد راځي نو دولت مداخله کوي...پدې توګه د دولت او خصوصي سکتور د مختلط موډل له برکته د تولیداتو مالکان او مصرف کوونکي مستهلکین په سالمه ماحول کې یو له بل سره د همکارانو او ګټه رسوونکو یا Win win approach په نقش کې پاته کیږي. په مختلطه سیستم کې خصوصي تشبثات انګیزه او ابتکار له لاسه نه ورکوي، کوم چې د کاملاً مرکزي کنترول په سیستم کې خصوصي سکتور ورسره مواجه کیږي، ځکه چې دولتونه د آمر او مالک په توګه نه بلکې د شریک او ممد په نقش کې تبارز کوي.

د افغانستان موجوده شرایطو ته په پام سره **د اقتصادي استقلالیت او ودې لپاره** یو لړ پریکټسونه لازم دي چې په اختصار سره ورته اشاره کوم:

**د اقتصادمحوره حکومتولۍ بنیادي ګرځول،** پدې هکله مې یو کتاب هم لیکلې «د افغانستان اقتصادمحوره حکومتولي» چې د دولت لپاره د لارې یوه بشپړه نقشه ده، منتها اقتصاد محوري کوم شعار او خوشبینه اراده نده، بلکې دا د عمل یوه داسې برنامه ده چې عرض او طول یې ټاکل کیږي او د زمان په چوکاټ کې (یوه کلنه او څو کلنه برنامه) سنجول کیږي. د اقتصادمحورۍ له مخې د دولت مالیې او اقتصادي ادارې باید هر کال د تولیدي سکتورونو د ودې برنامه او بودجه او هکذا خپل لومړیتوبونه مشخص او د تدارکاتي پلان په چوکاټ کې یې ترسیم کړي.

**د اقتصادي تعزیراتو په وړاندې د ریاضتي کځوړې جوړول،** پر ایران، شمالي کوریا، وینزویلا، مکسیکو، کوبا او ځینو نورو هېوادونو د امریکا او نړۍ بندیزونه هغوی دیته اړ کړل چې په ریاضتي اقتصاد لاس پورې کړې، دلته په افغانستان کې په کثرت سره هغه منابعو وجود لري چې د نړیوالو تحریمونو اغیز راکم کړي.

**د عامه (امارت) او خصوصي سکتور ترمینځ د مشارکت ایجاد،** یا د PPP, Public Private Partnership پر بنسټ د دولت او خصوصي سکتور مشارکت کولی شي چې ډېرې زیاتې وړې او متوسطې پانګونې د خصوصي سکتور پر مټ عملي او د زرګونو کاري فرصتونو د ایجاد زمینه برابره کړي.

**د سکتورنو او خصوصي تشبثات د ملاتړ کځوړه،** دیته په انګلیسي کې بل آوټ Bill out وایی، اسلامي امارت کولی شي د مالي ملاتړ او نقدي یارانو او مددونو په ورکړې سره، په خاصو او آسانه شرایطو او اقساطو، خصوصي واړه او متوسطه تشبثات Small and medium enterprisersدوباره تقویه کړي، د وړو تشبثاتو تمویل سبب کیږي چې د دوی کاروبارونه رونق پیدا کړي او د دوی عواید لوړ شي، د عوایدو لوړیدل به د دولت ته د لوړو او زیاتو مالیاتو او عوایدو شرایط لابهتره کړي، دغه یو دوراني څرخ دی چې دواړو طرفونو ته د منافعو د ډېریدو فرصت مهیا کوي او پدې توګه د غربت کچه او د تحریماتو اغېز پڅ کیږي.

**پر سیمه ییزه اتصال یا Reginal Connectivity زیات تمرکز کول،** افغانستان له لیري قارو سره پراخ تجارت نلري چې له مخې یې د لیرې قارو اقتصادي اغیز پرې تاثیر وکړي، نه د هغو بندیزونه، نه یې انفلاسیون او ډیفلاسیون او نه یې مقاطعه زمونږ پر تولیداتو او منابعو کوم خاص تاثیر غورځولی شي، عملاً زمونږ په خارجي تجارت کې شاوخوا یو سلنه یې له امریکا او اروپا سره ده، خو پاتې غټه برخه بهرنی تجارت مو له ایران، پاکستان، هندوستان، ترکیه، منځنۍ آسیا، عربي خلیج، چین او روسې سره دی، خوشبختانه دغه پورته ذکر شوې هېوادونه د امریکا د اقتصادي تحریمونو تابع هم چندان ندي.

د اقتصادي استقلالیت لپاره دغه پورته سرلیکونه د مثال په توګه راوړل شوې، ټولې طرحې همدا ندي، منتها د اسلامي امارت اقتصادي او مالیې کمیسیونونه کولی شي پدې برخه کې ډیر ابتکارات، تحقیقات او (مادي، برنامه یې او فکري) فعالیتونه په لار واچوي تر څو د پانګې او کورني اقتصاد خپلواکه تحرک ته زمینه مساعده کړې، د یادونې وړ ده چې د دنیا هیڅ هېواد په اقتصادي استقلال ندي استوار، ډول هېوادونه یو پر بل اقتصادي اتکا لري او همدې اتکا له یو بل سره د مشارکت او نږدېوالې بنسټونه قایم کړي دي، خو د افغانستان په څېر غني او شتمن هېواد هرڅه پرېمانه لري منتها پر نورو د خیراتي اتکا پرځای باید له نړۍ او سیمې سره د مشارکت پر بنسټ روابط تنظیم او تحکیم کړي.

**منابع او مآخذ:**


- د اسلامي اقتصاد اساسات او اصول، لیکوال: دوکتور پروفیسور احمد شوقي دنیا، ژباړه: محمدآصف ننګ، اکاډمیکه تحقیقي رساله
- اسلامي بانکدارۍ او په افغانستان کې یې د پلې کیدو کړنلارې، لیکوال: سرمحقق عبدالمعبود ضریري
- مکتب های اقتصادی، لیکوال: دوکتور سیدحسین میر جلیلی
- نظریه اقتصادی در مدل جمهوری، خوانشی انتقادی از فئودالیزم تا اقتصاد اسلامی، لیکوال حسین یزدی
- د افغانستان اقتصاد، دوه میاشتنې مجله، مدیر مسوول، محمدآصف ننګ
- مقدمه یی بر اقتصاد تطبیقی و بحثهای در تاریخ عقاید اقتصادی، لیکوال: آیت الله مرتضی مطهری
- بنیادهای علم سیاست، لیکوال: عبدالرحمن عالم، د نی خپرندوی
- او د لیکوال د ګڼو خپرنو او مطالعاتو غورچاڼ او یاددښتونه